بسم الله الرحمن الرحيم

# امریکا د خپلو مسلمانو او یهودو مزدورانو په مرسته د غزې پر وړاندې جګړه پیل کړې!

(ژباړه)

**خبر:**

د ۲۰۲۴م کال، د اګېسټ په ۱۱مه، پنټاګون اعلان وکړ چې د امریکا د دفاع وزیر لوید آسټین «د اسراییلو د دفاع لپاره د امریکا د هر ممکن ګام اخیستلو تعهد تایید کړ او اشاره یې وکړه چې د منځني ختیځ په سیمه کې د سیمه‌ییزو کړکیچونو په شدت سره به امریکا په ټوله سیمه کې خپل نظامي ځواکونه او موقعیتونه پیاوړي کړي. د دغه تعهد په دوام، لوید آسټین د آبراهام لینکلن په نوم سمندري بېړۍ، چې په F-35C جنګي الوتکو سمبال ده، د لیږلو امر وکړ، ترڅو د ضربتي ډلو ځای پر ځای کول ګړندي کړي.»

**تبصره:**

دا ښکاره خبره ده چې په غزه کې جګړه یوازې د فلسطیني مسلمانانو او د یهودیانو ترمنځ نه؛ بلکې امریکا د ځینو اقداماتو له لارې د یهودیانو لپاره ټول وژنه اسانوي:

۱. له یهودي رژیم څخه د امریکا مالي او نظامي ملاتړ، چې په هغه کې وسلې، جګړه‌ییزه بودیجه، ستراتیژیک او نظامي ملاتړ، چې پرته له دغه ملاتړ څخه به دغه اشغالګر رژیم په څو ساعتونو کې له منځه ولاړ شي.

۲. پر مسلمانو حکامو امر کول چې مخلص مجاهدین او پوځونه د مسجد الاقصی له ازادولو څخه منع کړي.

۳. کله چې د خپلو مزدورانو لپاره کوم ګواښ احساس کړي، نو په منځني ختیځ کې خپل نظامي حضور زیاتوي.

سربېره پر دې، امریکا په بشپړه توګه د مسلمانانو پر وړاندې په جګړه کې له یهودي رژیم څخه ملاتړ کوي.

د امریکا مزدوران په یهودي رژیم کې دا تضمینوي چې خپل سرتیري د امریکا په لومړیو کرښو کې په منځني ختیځ کې ځای پر ځای کړي. نتانیاهو د ۲۰۲۴م کال، د جون په ۲۵مه، د کانګریس په ګډه ناسته کې امریکایانو ته یادونه وکړه او ویې ویل: «موږ سربېره پر دې چې په منځني ختیځ کې خپلې ګډې ګټې ساتو، له امریکایي ځواکونو سره په لیرې پرتو سیمو کې همکاري کوو.» خو د امریکا مزدوران، چې پر اسلامي خاورو واکمن دي، په مستقیمه توګه په هر هغه څه سره چې په لاس کې یې لري، له امریکا سره مرسته کوي.

د مسلمانانو د حکامو له ملاتړ پرته به د امریکا صلیبي جګړه نه وای پیل شوې؛ ځکه چې امریکا یوازې د سمندرونو له لارې له منځني ختیځ سره وصل ده. امریکا د اردن له لارې وسلې یهودي رژیم ته لیږدوي او له هغه ځایه بیا د هوا له لارې تل ابیب ته رسیږي. د سعودي او فارس خلیج حکام د یهودي رژیم لپاره د سون توکو او اساسي اکمالاتو لپاره ځمکنۍ لار چمتو کوي او د سره سمندر محاصره له منځه وړي. د مصر فرعون د مسلمانانو مجاهدینو او سرتیرو پر مخ د رفح لاره بندوي. د مسلمانانو حکام د امریکا د وسلهوالو ځواکونو لپاره هوایي، نظامي او سمندري اډې برابروي.

له همدې امله د تعجب وړ نه ده، چې نتانیاهو د ۲۰۲۴م کال، د جون په ۲۵مه اعلان وکړ: «موږ به له امریکا او خپلو عرب شریکانو سره مرستې ته دوام ورکړو.»

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ [المائده: ۵۱]**

**ژباړه:** *«ای مومنانو، یهودیان او نصرانیان خپل ملګري مه نیسئ. دوی یو د بل ملګري دي او هر څوک چې له تاسو څخه هغوی خپل ملګري ونیسي، له شک پرته چې له هغوی څخه دی. له شک پرته الله تعالی ظالمانو ته هدایت نه کوي.»*

**ای مسلمانانو، ای پوځونو او ای د اسلامي امت مجاهدینو!**

څومره نور انتظار کوئ؟ په غزه کې د ټول وژنې له پیل څخه لس میاشتې تېرې شوې او ۷۷ کاله وشول چې یهودي رژیم فلسطین اشغال کړی او د مسلمانانو حکام له یهودو او نصاراوو سره تړونونه لري، هېڅ یو نه عرب او نه هم عجم، پوځونو او د اسلامي امت مجاهدینو ته د یهودي رژیم پر وړاندې د برید امر نه دی کړی.

پر دې ټولو سربېره، همدا د مسلمانانو حکام د خپلو پوځونو او مجاهدینو قوت کمزوری کوي او د دوی ځواک له منځه وړي او د خپلو دښمنانو د له منځه وړلو لپاره یې کمزوري کړي.

دغه حکام د الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرماني کوي او هغه څه ترسره کوي، چې الله سبحانه وتعالی ترې منع کړي دي. روښانه ده چې د دغه امت حکام د مسلمانانو پر اوږو تر ټولو لوی بار دی. له همدې امله واقعي بدلون یوازې هغه وخت راځي چې دغه حکام له منځه لاړ شي او اسلامي دولت بیا تاسیس شي.

**ای مسلمانانو، ای پوځونو او ای د اسلامي امت مجاهدینو!**

وروسته له هغه چې د خپلو حکامو پر واقعیت پوه شوئ، څنگه له کفایي فرض څخه چې ستاسو مکلفیت دی، یعنې د غزې د ملاتړ لپاره جهاد څخه ځان کاږئ؟ تر اوسه نه د لرې او نه د نږدې پوځونو له لوري دغه مکلفیت ترسره شوی دی.

ایا دغه حکام نه لرې کوئ او د امت د بریا پر وړاندې د خپل دښمن (امریکا) د له منځه وړلو تضمین نه کوئ؟

عام مسلمانان هڅه کوي چې خپل مکلفیت ترسره کړي او د مهاجرینو په لاره روان دي، د طاغوتونو پر وړاندې حق خبرې کوي او په دغه لاره کې ظلمونه، ستونزې او کړاوونه گالي.

خو ستاسو مکلفیت لا تر اوسه نه دی ترسره شوی. تاسو تر اوسه د انصارو رضی الله عنهم په لاره نه یاست؛ هغوی هغه جنگیالي وو چې د اسلامي دولت جوړولو لپاره یې نصرت ورکړ. د مدینې انصارو د رسول الله صلیه الله علیه وسلم په ملاتړ د عقبې په دویم بیعت کې، چې د مشرکینو پر وړاندې د جگړې بیعت و، واقعي او لوی بدلون راوست.

د عقبې له دویم بیعت وروسته د مدینې انصارو پلان شوي کارونه ترسره کړل چې د اسلامي دولت د جوړېدو لامل شول. موږ د امت پر ټولو پوځونو او سربښندونکو مجاهدینو غږ کوو چې د حزب التحریر ملاتړ وکړي ترڅو د نبوت پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړي او صلیبی امریکایان له منځه یوسي، نو زموږ غږ ته لبیک ووایئ!

**ژباړن: اسرار تکل**